# زما حقونه او مسئولیتونه

WIC د تغذیه ښوونه، د تي شیدو ورکولو ملاتړ، رجعت او تکمیلي خواړه وړاندې کوي چې تاسې سره سالم پاتې کېدو کې مرسته کوي. د WIC کارمندان به ستاسې د روغتیا او د خوړو عادتونو په اړه له تاسې پوښتنې وکړي ترڅو موږ ستاسې لپاره د WIC کار وکړی شو.

## کله چې زه په WIC کې داخل شم، زه حق لرم:

- ☑ د WIC محترم کارمندانو سره کار وکړم څوک چې زما اړتیاو ته غوږ نیسي.
- ☑ د هغه موضوعاتو په اړه د تغذیه ښوونه چې زما د علاقې وړ دي.
- ☑ نورو روغتیایی خدمتونو ته راجع کول.
- ☑ رازساتنه. زما معلومات به محافظت کیږي.
- ☑ د مرستو بریښنایی کارت (د eWIC کارت) د تغذیه خوړو اخیستلو لپاره چې دا به زما غذایی رژیم بشپړوي. د WIC خواړه ډیری مهم نغذیه ای مواد لري چې ما سره سالم پاتې کیدو کې مرسته کوي.
- ☑ د لیرد د مرستې موده کې د eWIC لیرد اړوند بحث کول.
- ☑ ښه خدمت او د WIC کلینیک او پلورنځي کې مناسب او مساوي چلند.
- ☑ که چیرې زه زما د WIC کلینیک پریکړې سره موافق نه اوسم د عادلانه اوریدا لپاره غوښتنه کول:

**د اوریګون WIC پروګرام**
**Oregon WIC Program**
PO Box 14450
Portland, OR 97293-0450

**تلیفون:** 971-673-0040
**TTY** 800-735-2900
**فاکس:** 971-673-0071

د WIC پروګرام کې د په شرایطو برابرئ او ګډون لپاره معیارونه د نژاد، رنګ، ملي اصلیت، عمر، معیوبیت یا جنسیت په پام کې نیولو پرته د ټولو لپاره یو شان دي. د تبعیض اړوند شکایت کولو لپاره د **اوریګون WIC پروګرام** سره اړیکه ونیسئ لکه څنګه چې پورته ښودل شوي دي یا لاندې ورکړل شوي لارښوونې تعقیب کړئ.

دا نهاد د مساوي فرصت وړاندې کونکی دی. د فدرال د مدني حقونو قانون او د امریکا د متحده ایالاتو د کرنې وزارت (USDA) د مدني حقونو مقرراتو او پالیسیو له مخې، USDA، د دې ادارې، دفترونه، او کارمندان، او د USDA پروګرامونو کې ګډون کونکي یا د دې پروګرامونو مدیریت کونکي نهادونه د USDA لخوا پرمخ وړل کیدونکي یا تمویل شوي پروګرام یا فعالیت کې د نژاد، رنګ، ملي اصلیت، جنسیت، معیوبیت، عمر، یا مخکیني مدني حقونو فعالیت جبران یا غچ اخیستنې پربنسټ د تبعیض کولو نه منع دي. معیوبیت لرونکي افراد چې د پروګرام معلوماتو لپاره د ارتباط بدیل وسایلو ته اړتیا لري (لکه بریل، غټ چاپ، غږیز ټیپ، امریکایی اشاري ژبه وغیره)، باید هغه ادارې (ایالت یا ځایی) سره اړیکه ونیسي چیرې چې هغوی د مرستو لپاره غوښتنه کړې ده. هغه افراد چې کاڼه دي، په سختۍ اوري یا د خبرو کولو معیوبیتونه لري کولی شي په 877-8339 (800) شمیره د فدرال ریلی خدمت له لارې د USDA سره اړیکه ونیسي. علاوه لدې، د پروګرام معلومات د انګلسي پرته نورو ژبو کې هم چمتو کیدی شي. د پروګرام د تبعیض شکایت کولو لپاره، د USDA د پروګرام تبعیض شکایت فورمه (AD-3027) ډکه کړئ، چې آنلاین دلته موندل کیږي:
http://www.ascr.usda.gov/complaint_filing_cust.html ، او د USDA دفتر کې، یا USDA ته لیک ولیکئ او په فورمه کې غوښتل شوي ټول معلومات په لیک کې ولیکئ. د شکایت فورمې د کاپي غوښتلو لپاره، 632-9992 (866) ته تلیفون وکړئ. خپله ډکه کړې فورمه یا لیک USDA ته وسپارئ:

(1) **پوست:** د امریکا متحده آیالاتو د کرنې وزارت
د مدني حقونو د مرستیال وزیر دفتر
1400 Independence Avenue, SW
Washington, D.C. 20250-9410؛
(2) **فکس:** 690-7442 (202)؛ یا
(3) **بریښنالیک:** program.intake@usda.gov

بل مخ واړوئ

## زما مسولیتونه

د WIC د ګډون کونکي په حیث، زه به:

- ☑ هرځله چې زه په WIC کې د موجودیت لپاره ارزول کیږم زه باید د شناخت، اوسیدو (پته) او زما د ټولې کورنۍ لپاره د ټولو عوایدو ثبوت راوړم. (د WIC خدمتونو ترلاسه کولو لپاره زه اړ **نه یم** د امریکا متحده ایالاتو تبعه اوسم.)
- ☑ زما د WIC ټولو ملاقاتونو ته زما د شناخت ثبوت د ځان سره وړم.
- ☑ زما لخوا ورکړل شوي معلومات کې د بدلونونو په اړه د WIC کارمندانو ته وایم.
- ☑ خپلو ملاقاتونو ته ورځم او که ونشم کولی نو د WIC کلینیک ته تلیفون کوم. که زه زما ملاقاتونو ته ورنشم او زما د خوړو مرستې ترلاسه کړم، د WIC خدمتونه ممکن ځنډ شي یا ودرول شي.
- ☑ د هرې تصدیق دورې په پای کې د WIC مرستو لپاره بیا غوښتنه وکړم.
- ☑ که زه بلې ساحې ته کډه وکړم نو زما د WIC کلینیک خبروم ترڅو زما ریکارډ ولیږدول شي.
- ☑ یوازې د اوریګون WIC پروګرام لخوا مجاز پلورنځیو کې صحیح مقدار سم خواړه او فارمولا اخلم.
- ☑ زما د eWIC کارت خوندي او زما PIN پټ ساتم
- ☑ د WIC کلینیک ته تلیفون کوم که زه پوښتنې ولرم، که چیرې زه په پلورنځي کې د WIC هغه خواړه یا فارمولا ونه وینم چې زه ورته اړتیا لرم یا که زه زما د اړتیا نه ډیر ترلاسه کوم.

## د WIC پروګرام مقررات

دا مقررات تعقیب کړئ غیرلدې تاسې د WIC پروګرام څخه ایستل کیدی شئ:

- ◄ ټول هغه معلومات چې تاسې یې WIC ته ورکوئ په اړه یې ریښتیا ووایی.
- ◄ په پلورنځي کې، د هغه خوړو یا فارمولا غوښتنه مه کوئ کوم چې ستاسې د eWIC مرستې بیلانس کې موجود ندي. په بل شي بدلول یا د چیک اخیستل مجاز ندي.
- ◄ هیڅکله خپل د WIC خواړه، د WIC لخوا درکړل شوي د تي پمپونه، فارمولا یا د eWIC کارت انلاین یا په کوم بل ډول مه پلورئ یا د پلورلو، سوداګري کولو یا کوم چا ته ورکولو هڅه مه کوئ.
- ◄ د نغدو پیسو، کریډیټ یا نورو توکو لپاره د WIC خواړه یا فارمولا بیرته مه ستنوئ.
- ◄ تاسې په یوه وخت کې د یوه نه ډیر WIC پروګرامونو کې داخله نشئ کولی.
- ◄ هیڅ کله د WIC، پلورنځي یا د بزګرانو بازار کارمندانو سره لفظي ناوړه چلند، ځورونه، ګواښ مه کوئ یا هغوی ته فزیکي زیان مه رسوئ.

که تاسې دا معلومات په کوم بل فارمیټ کې غواړئ، نو مهرباني وکړئ 0040-673-971 ته تلیفون وکړئ.

www.healthoregon.org/wic

57-630 (7/2017) Pashto